# د حق برغ

په دې څو وروستنیو میاشتو کې د هندوستان سیاسي اوضاع داسې سره اوښتې ده چې په تاریخ کې نظیر نه لري. هندوستان دا څو سوه کاله کېږي چې د دولت برتانیا تر سلطه او اقتدار لاندې و، مګر اوس موږ وینو، چې دولت برتانیا غواړي چې هندوستان هندوستانیانو ته پرېږدي او ټولو خلکو ته یې د آزاد ژوند حق ورکړي.

آزادي او خپلواکي د ملتونو یو طبیعي حق دئ او په دې لوی جنګ کې چې ډېرو انسانانو خپل ځانونه قرباني کړه، هم د دغه مقصد لپاره وه او د (منشور اتلس) مخ هم د بشریت د لوړو قربانیو په وینو ګلګون دئ او دا حق بشریت په وینو ګټلی دئ.

موږ پښتانه هم طبعاً یو خپلواک او آزاد قوم یو، په قرنو قرنو مو خپله آزادي په وینو ساتلې، او پردي خلک مو نه دي پرې ایښي چې زموږ مقدس حقوق تر پښو لاندې کړي، نو ځکه د بشریت د غلام اقوامو څخه چې هر څوک خپلواک کېږي او د (آزادۍ) مشروع حقوق مومي موږ په خوښېږو او لکه د ځان لپاره چې ازادي خوښوو او په وینو یې ساتو، دغسې مو خوښه ده چې نور مریي اقوام (آزاد) سي او خپل مشروع حقوق ومومي.

منشور اتلس او نور هغه کنفرانسونه چې د بشر د حقوقو د تثبیت لپاره کېږي، د شلم قرن یو حقوقي او بین البشري شاهکار دئ، مګر دا شیان که پر کاغذه پاته سي او د عمل میدان ته نه راووزي، د نتلې (انسان) په درد نه ورځي او بیا به ملتونه یو بل خونین جنګ ته منډې ووهي.

موږ خوښ یو، چې د جنګ ګټونکي درې لوی ډیموکراسي دولتونه دې ته حاضر سوي دي، چې (منشور اتلس) عملاً د بشر د ګټو لپاره میدان ته راوباسي، او ټول ملل په آزاد ژوند او د ډیموکراسۍ د اصولو سره آشنا کړي او پر دې مقدسه غایه بشر سره راغونډ کړي، چې "هر څوک د ځان واک لري او هر هیواد د هغه ځای د خلکو دئ".

څو ورځې دمخه دولت برتانیا د هندوستان په خصوص کې یو اعلان وکی، چې هلته به یو هندوستان د هندوانو لپاره او یو پاکستان د مسلمانانو لپاره جوړېږي او هر څوک حق لري، چې خپل ځان په هغه ډول چې وغواړي اداره کاندي. موږ پښتانه د خپل همسایه او ورور ملت هندوستان په دغه (آزادي) او خپل حق موندلو خوښ سوو او تل د هندوستان د ملت لپاره د دوی خوښي او سعادت غواړو او یګانه آرزو مو هم دغه ده، چې زموږ همسایه او ګاونډي ملل خوښ او مسعود او مترقي وي او د دولت برتانیا دغه اقدام هم د هغه ملت د نېک نیت او آزادمنشۍ او ډیموکراسۍ د روح ښه اثر ګڼو. مګر خبره دا ده، چې زموږ څو ملیونه (پښتانه وروڼه) د ډیورنډ تر فرضي خط و هغې خوا ته تر اباسینده پراته دي، او دا خلک څو عمر د بریتانوي هند تر اقتدار لاندې وه. دوی خپل مشروع حقوق نه درلوده او هر وخت یې هم د خپلې آزادۍ لپاره لویې لویې قربانۍ ورکړې دي، نو آیا دغه زموږ وروڼه چې په خټه او نژاد او ژبه او ټولو عنعناتو او ممیزاتو کې سره یو شی یو زموږ هېرېږي؟

دولت برتانیا دوی مجبور کړي دي، چې په هندوستان یا پاکستان کې شامل سي، موږ پښتانه نه پوهېږو، چې دا نو ولې؟ آیا هغه زموږ وروڼه نو ولې د ژوندانه حقوق نه لري؟ دولت برتانیا د پنجاب و سیکانو ته حق ورکوي چې یو سیکستان جوړ کړي، د بنګال خلکو ته حق ورکوي چې سره بېل سي، برما ته حق ورکوي چې یو آزاد مملکت سي، نه په پوهېږو چې پښتنو ته ولې د آزاد ژوند حق نه ورکوي؟ د افغانستان خلک دوی خپل وروڼه ګڼي او هیڅکله به دا خبره هېره نه کړي چې

دولت برتانيا ولي د دوی د پښتنو ورونو حق نه ورکوي؟ پښتانه یو ملت ګڼل کیږي او په کلو کلو دمخه هم زموږ پلرو دا پیغام راکړی و، چي تاسي ورونه یاست. اوس هم د صوبۀ سرحد پښتانه زموږ ورونه دي او موږ دوی نه سوای هېرولای او د افغانستان خلک دا غواړي چي دوی باید مجبور نه سي چي هرومرو به په هندوستان یا پاکستان ګډیږي.

که له دوی څخه پوښتنه وسي ښایي چي اتحاد وغواړي.

که له دوی څخه پوښتنه وسي، ښایي چي دوی به د ځان لپاره یو خپلواک او آزاد ژوند غوره کړي، که له دوی څخه پوښتنه وسي، ښایي چي د مرحوم خوشحال خان خټک دا خبره به ووایي چي :

"درست پښتون د ننګ په کار کي سره یو دئ"

مقصد دا دئ چي د ډیورنډ له فرضي خطه بیا تر اباسینده پوري زموږ ملي ورونه سپېڅلي پښتانه پراته دي، موږ دوی کوږټ نه سو هېرولای. موږ د دوی لپاره د (منشور اتلس) پر اساس یو مستقل او آزاد ژوند غواړو، لکه د هندوستان نورو اقوامو ته چي د ژوند او خپلواکۍ حق ورکړه سوی دئ، دوی ته هم باید ورکړه سي، ځکه چي په هیڅ صورت دوی د هند تر نورو اقوامو پاته نه دي او په کلو کلو دوی د خپل استقلال لپاره قربانۍ ورکړي دي او که د دوی دغه ملي مرام لاس له ور نه سي، ښایي چي په آینده کي بده نتیجه وښندي او د افغانستان او هندوستان د دولتو تر منځ به ډېر مشکلات پېښ کړي.

په دې ځای کي زه دا خبره هم د پښتنو له خوا د دوی د یوه ملي مرام په ډول لیکم، چي پښتانه له خپلو هندي ورونو سره که مسلمانان دي که هندوان، د دوی په آزادي خواهانه حرکاتو کي پوره همدردي لري او آزادي د دوی مشروع حق بولي، خو خپل پښتانه ورونه هم نه سي هېرولای، او که په هند کي مثلاً سیکان د آزاد ژوند حق مومي، نو پښتانه به ولي ضرور په هندوستان یا پاکستان پوري نښلي؟

د هند نائب السلطنه (وایسرای) چي کوم اعلان کړی دئ، په دغه اعلان کي د افغانستان خلک په کلکه دا پوښتنه کوي، چي ولي به زموږ پښتانه ورونه د آزادۍ له مشروعو حقوقو څخه برخه نه مومي؟ ولي به دوی ته د نورو هندي اقوامو په ډول (یو آزاد ژوند) نه ورکول کیږي؟ له دوی څخه دي هم پوښتنه وسي، چي څه کوي؟ څه غواړي؟ او څنګه ژوند خوښوي؟

دا ټولي خبري حل غواړي او د افغانستان خلک په ګډه دا د (حق بږغ) و دولت برتانیا او نورو ډیموکراتو انسانانو ته رسوي، چي په دې موضوع کي خپله د ډیموکراسۍ دعوه عملاً اثبات کړي او د دنیا په تاریخ کي یوه روښانه کارنامه زیاته کړي. ولي چي دغه ملي مقصد په قرنو قرنو دمخه پښتنو درلود، او هم اوس ټول پښتانه منتظر دي، چي زموږ سرحدي پښتانه ورونه آزاد سي، او هغه حقوق چي د دنیا ټولو اقوامو ته ورکول کیږي، دوی هم له هغو څخه پوره برخه ومومي.

د طلوع افغان ښاغلی مدیر! دا زما بږغ چي د افغانستان د ټولو خلکو د (حق بږغ) دئ، د خپلي روزنامې په ذریعه خپور که، او دغه (ملي آرزو) د دنیا دیموکراتو اقوامو ته ورسوه، چي دا ښکاره سي او د خپلو هندي ورونو سره مو پوره همدردي سته او مخصوصاً د خپلو پښتنو ورونو مشروع حقوق او د پوره ډیموکراسۍ ژوند غواړو او دا خپل بږغ د ټولو متحده اقوامو غوږو ته رسوو.

طلوع افغان، ۱۳۲٦ ش، ۷۳ ګڼه، لومړي مخ.